ليکونکی : کارلوتا گال«Carlotta Gall ».
منبع او دخپریدو نیټه : ( نیویارک ټایم ۲۰۱۳-۳-۲۱).
ژباړونکی : پوهندوی دکتور سیدحسام «مل».
------------------------------------------------------------

# کليوالودطالبانودلاسه څخه ځنی حياتی منطقی ترخپل ولکی لاندی راوستی دی

Villagers take On Taliban in Their Own Heartland

پيشنګان سيدان، افغانستان : تيره مياشت د افغانستان په سهيلی سيمو کی دزياتوکلو اوباندو ميشته کليوالو د طالبانو پر ضد په پا څون پيل وکړل کوم چی اوس ددغه خوځښت لمن نورو زياتو کلو اوباندو ته غوړيدلی دی داهغه مطلب دی کوم چي دهغوسيمو ځايی خلکو اود امريکی دمتحده ايالاتوپه سيمه کی ميشته رسمی سرچينی څرګند کړل او داهميت وړمطلب دا دی چی دا دخلکو هغه يواځنی او ډير مهم او وګړنی پاڅون په دی تيرو کلونو کی دطالبانو پرضد دي.

دفبروری له لمړيو ورځوڅخه کوم چی کليوالو د پوليسو د قوتونو سره په ګډه دقندهار د ښا رله سهيلی برخو څخه چي هلته ډير د انګورو تاکونه اوباغونه د طالبانو په ولکه کی وه دهغو له ولکی څخه تر لاسه کړی دي او يود بل سره لاس په لاس شوی دی يعنی چی دهغي سيمی ډيری خلکودطالبانو پر ضد دحکومت دمنسوبينوسره لاس يوکړي دي .

ديو ځای راپور پر بنسټ تقريباً د سلو کلو څخه زيات سپين ږيری او دقوم مشران په يه پرانيستلی غونډه کی چی ددوشنبی په ورځ تر سره شول هغوی داسی پريکړه وکړل چی طالبانو بايد هر څومره زر له دی سيمی څخه په زوره وباسی نوپه همدی مناسبت سره هغوی د خپل چمتوالی د ښود لو د پا ره د خپلو باموته پر سر د افغانستا ن بيرقونه

ودرول .
په دی تیرو اتلسو میا شتو کی د افغا نستا ن د ډیرونورو کلوخلکو د طالبانو پر ضد را پاریدلی دی ، اما د پنجوایی پاڅون او بلوا ډیر مهم اود اندیښنی وړ مطلب په دی دي چي پنجوایی د طالبانو مرکز اویا په اصطلاح پلازمینه وه یعنی داهغه منطقه او ساحه دی کوم چي څو څو ځلی د امریکی د متحده ایالاتو او دنا ټو د قوتونو ګډ عملیاتونه تر سره شوی دي . اما هیڅوک دا سی ادعا نه دی کړی چي طالبانو له منطقی څخه د نوموړی عملیا تونو په پای کی سره بیخي تری تم شوی اوسی دهغو ډیر سخت دریزو او جګړه مار دغچ اخیستو دپاره بیرته سیمی ته را اغوښتی دی لکه چي تیر اونی دوه بی ګناه انسا نا ن یی په ډزو سره له پښو وغورځول – اما د پنجوایی پاڅون د بیلګی په بڼه هغه پاڅون وه کوم چی د طالبانو پرضد د سیمی دخلکو ډیر زیات کرکه را پارید لی وه اوهغوی وشو کړلی چی د دولت د قوتونو سره په ګډه دغه سر ټمبه طالبا ن له دغه سیمی څخه وباسي اوبریی ترلاسه کړی .
یوه بڼه زیری دادی چی ممکن د طالبانو پر ضد دغه را رسیدونکی فصل یوه بدایسدونکی او شوم فصل وی اوهغه داچي که چیری دوی پر هغو منطقو باندی کوم چی له هغه ساحی څخه امریکایی قوتونه وتلی وی یرغل یوسی نو هرومرو دهغومنطقوخلکو به دهغوی دیرغل پرضد بلوا وکړی او هغوی به له منطقی څخه تری تم کړی .
دهغه ځای دخلکو اود کلو دخلکو سره په یوه ګډه خبری مرکه اویا مصاحبه کی داسی راڅرګند شول چی دنورو کلودخلکو دقهراود کرکی څپی د طالبانو پر ضد په را پا ریدو دی اوخلکو ددغه ځناور صفتو اوبی رحمو جګړه مارو کوم چی پر خلکو با ندی ژوند ډیر تریخ کړی دي سره لاس په لاس کیږی او خپل لیکی د دولت د امنیتی قوتونو سره دهر ورځ په تیریدو سره نژدی کوي ، دپنجوایی دپولیسو نوی ټاکل شوی مشر ښاغلی سلطان محمد چی دهغه منطقی د زنګ آباد له کلی

څخه دی  په یوه مرکه کی خپل  ملاتړ  د خپل حکومت سره په بشپړه بڼی سره اعلان کړ .
« له ډیری مودی راهیسی  اما اوس اوس  خلکو دځان سره وايي   بس نور بس دی (کافی  کافی دی ) اوهغوله طالبانو څخه تر ستونی راغلی دي  په سهلی سیمه کی میشته امریکایی  قوماندان جنرال  رابرت   بی ابرام «Maj G. Robert B . Abrams» د پنتاګون دیو  راپورتر سره په یولنډ خبری مرکه داسی  وویل:  چی  په دغه سیمه کی چی زه خپل ماموریت تر سره کوم  ددغی منطقی  له  څلورو کلو څخه طالبانو پښی خپل سپکی کړی  اوسره  وتلی دی .
امریکایی اوافغانی امنیتی قوتونه  په سیمه کی  کوم چی د «۲۰۱۰» څخه راهیسی د طالبانو پرضد په ګوریلای بڼی سره په یرغل پیل کړی دهمدغی یرغلونو دجاری ساتلودپاره په زرګونوزیاتی سرتیری د هیواد سهیلی برخی ته لیږدول شوی .
سره له هغی چی طالبانو دهغه سیمی له حیاتی اومهمو  خایونو  څخه څو څو واری شا ته تمبول شوی مګر هغوی  د پنجوایی  سهیلی برخي پخپل تصرف کی ساتلی  خصوصاً د زنګ آباد اود سپروان  کلي  اوبیا دهغه منطقی شاوخوا کی بمونه   ښخه کړی  یا غوړولی او  دامریکایی – افغانی  قوتونو  پر ضد په کمین او مرچل کی ځان خوندی  ساتلی او دهغوی لاره څارلی دي .
اما یوډیر  غمجن او  انکار نه منونکی اودردونکي پیښه کوم چي ددغه ځایه څخه نه چندان لری راپیښه شو او  په هغه کی(۱۶) بی ګناه افغانی ملکی خلک پخپل کورکی دشپی له خوا ووژل شول ټولوته څرګند شول چي دهغه ځای ځلکو د افغانی او امریکایی سرتیرو  په مقابل کی  سره بلوا او پاڅون وکړل او پردغه قوتونو باندی کلکه نیوکی وکړل .
دلته میشته ځایی خلک او  افغانی رسمی مقامات  وایی  چی دغه ډول بی رحمی  اوقساوت  کوم  چی  ټولنه  تباهی  اوبربادی خو اته  وړی

دطالبانو ناوړی کړنه او جګړه ماری دی کوم چي نژدی له «۳۰۰» څخه تر «۴۰۰» ملکی خلکو په دی وروستيو شپږ و مياشتو کی په پنجوايی کی د طالبانود بمونه دغورځولواوښخولو قربانی شوی يا داچي ټپيان شوی دی . داهغه خبری مطلب دی چی دمنطقی ولسوال حاجی فضل محمد څرګندوی .

« دهغه ځای خلکو د طالبا نو څخه په دی خوا بدی دی او دهغو څخه کرکه لری اودا ځکه چی طالبانو دهغو په باغونو اوکروندو کی بمونه ښخوي دامطلب هغه پخپل دفتر کی را پور تر بيان کړ ، هغه ه وويل چی يو طالب دبمو دښخولو په وخت کی پخپله والوتل اوهيڅوک پوه نه شو چي هغه چيری بمب يا مين ښخ کړی وه خلکو اوس دطالبانو څخه تر ستونی راغلی او غواړی چی مونږ سره رانژدی شي .

دخلکوبلوا اوپاڅون هغه وخت پيل شو کله چي دهغه ځای يو طالب قوماندان د ملا نورمحمد په نوم دهغه کلی (۳۵) بی ګناه ځايی خلک په بند کی واچول او دحاجی عبدالودود دکور څخه دهغه دوه ځامن هم په دی تهمت سره په بند کی واچول چی حکومتی مسولينو ته جاسوسی کوی يعنی هغو ته راپورونه ورړی .

« حاجی ودود وويل : چی دوی يعنی طا لبا نو غوښتل چی ځما زامن حلال کړی يادهغوسرونه غوڅ کړی داهغه مطلب دی کوم چی حاجی عبد الودود پخپل کور کی په يوه مرکه کی تيره ميا شتی بيان کړ هغه وويل چی طالبان غوښتل چی ځما ځامن يوی صحرا اويا دشتی خواته کوم چی هلته دوی خلک په قتل رسوی يعنی هلته دهغو په اصطلاح سره صحرايی محکمه دی ويسی .

(۶۰) کلن ښاغلی عبد الودو کوم چی په کال (۱۹۸۰) کی د شوروی سرتيرو پرضد جنګيد لی وه او يو مجاهد سړی دی نا چار شو چی دخپل(۶) ځامنوسره دطالبانو پرضد ودريږی اوسلاح ته لاس وروړی ديادونی وړ مطلب دلته دادی چی دعبدالود سره د هغه ځای دنژدی اود

لرو کلو نور خلکو کوم چی دطالبانو له تیری او تعدی څخه سر ټکاوه اود هغوی منسوبین یي یا وژلی وه یا تری تم کړی وه هم د حاجی د ډلی سره دطالبانو پرضد ودرید ل اوددغه کلو دخلکو وینه له ډیرقهر اوغضب څخه د طالبانو پر ضد خوټیدل: دری ورځی مخکی دطالبانو همغه قوماندان هغه بزګرانو چی غوښتل د کلی د اوبو ویاله یا کانال صافه یا پاکه کړی وډبول شول .

ښاغلی حاجی عبدالودود ددی دپاره چی دمنطقی د ولسوال اویا نورو حکومتی خلکو سره کمک وکړی دهغه ځای یا دهغه حوزی مسول پولیس ته مخه کړ ، شاغلی محمد او هغه زوړ مجاهد عبدالودود دهغه دمتعلقینو په یوه واده کی سره دیوځای کیدو بندوبست وکړل اود طالبانو پرضد یي یوه پلان جوړ کړل .

د فبروی دمیاشتی په شپږمه نیټه کی دوی دطالبانو پر پوستو باندی چي دهغه ځای په کلو اوبانډو کی لرل د یرغل او د حملی نیت وکړل په دی وخت کی دهغوکلو څخه نژدی(۷۰) غیرمسلح خلکو هم دپولیسو دمنسوبینو سره دطالبانو پر ضد یوځای شول چی هغوی د پولیسو له خوا بدرقه شو او هغوی ته لارښونه وشول چی څرنګه اوپه څه مهارت سره د طالبانو تګ اودراتګ لاری وڅاری وروسته دیوی شیبی دډزو له رد وبدل څخه د طالبانو لاره ونیول او په هغه ډزو کی دری تنه ووژل شول او طالبانو جنوب خواته مخه وکړل او ددښتی خواته روان شول . په دی وخت کی د پولیس یونیټونه هغوی تر خپل تعقیب لاندی ونیول او هڅه یی وکړل چی په دښته کی یوه ورځ وروسته د طالبانو دپوستی اړخ ته ځان ورسوی کله چی دغه خبره په نژدی کلو اوبانډو کی تیت او خپور شول نودهغه ځای د کلو نور ځایی خلکو هم خپل ملاتړ ددولت دمنسوبینو او امنیتی ځواکونوسره اعلان کړل او پولیسو ته زمه ووهل چی هغوی به د پولیسو په لار شوونی سره به دخپلو کلو اوبانډو څخه د طالبانو په وړاندی ساتنه کوی .

جنرال ابراهیم وویل چی دمحلی خلکو مرسته اود حکومت دقوتونو شمیر وسعت وموند کوم چی هغه لاتراوسه په منطقه کی د (۱۷۰۰۰۰) سرتیرو درهبری مسولیت پرغاړه لری ، افغانی جنگیا لی اوس اوس (۵۲۰۰۰) ته رسیږی چی دهغه ځای د مختلفواجنسیو دامنیت د سا تنی مسولت پرغاړه اخیستی دی هغه څرگند کړل چی ددغه قوتونو په موجودیت سره اوس دهغه ځای طالبانو له هر پلوه اوبیا په ځانگړی بڼی سره دمالی اوبودجوی اړخ له پلو ډیر کمزور شوی دی همدارنگه هغوی یعنی طالبان دجنگی مهماتودکموالی سره مخامخ شوی او طالبانو خپل جگړه ماروته هدایت ورکړی دی چی په ډله ایز بڼی سره د خپل ځان څخه ساتنه وکړی داهغه خبری دی چي د پولیسو مسول د سه شنبی په ورځ دتیلیفون په واسطه سره مونږ ته څرگندونه وکړ.

دافغانستا ن د ملی امنیت مشر اودایرکتر «اسدالله خالد »دطالبانو یو پیژندلی شوی تند د ښمن کوم چی دطالبانو دیو ځان وژونکی په الوتلو سره ټپی شو او تراوسه دخپل روغتیا موندنی دپاره دامریکی د متحده ایالاتو په یوه روغتون کی ورځی اوشپی سبا کوی وایی : زه غواړم چی د یو سرتاسری پاڅون زړی وکرم چی طالبان له منطقی څخه وباسی او خلک دهغو له شر ه څخه خلاص کړی .

« یوه انکار نه منونکی حقیقت دادی چی اوس اوس خلک د طالبانو څخه ډیر په تنگ شوی اوتر ستونی راغلی دی او خلک زیاتی نور طالبان نه غواړی دا هغه مطلب دی کوم چی هغه پخپل مصاحبه کی څرگند کړ هغه زیاته کړ اوهغه دا چی کله چی خلکو ونه غواړی نو طالبانو هغه ځای ته نشی راتللی نو په دی بنیاد سره زه داسی فکر کوم چی دا دطالبانو د ژوند وروستی سلگی دی اما دیادونی ډیر مهم مطلب دادی چی مونږ باید له دغه فرصت څخه څه ډول گټی باید تر لاسه کړو ».

دقندهار دولایت رسمی مقامات او مسول چارواکو په دی ویاړی چی

دهغه سیمی خلکو د طالبانو پر ضد را پورته شوی دي کوم چی ډیر سود مند بریښی، اما په عین وخت کی دهمدی منطقی خلکو دا غوښتنه دی چی که چیری دولت اومسولوحکومتی مقاماتو له دغه فرصت څخه ګټه پورته نکړی اوددی جنبش څارنه ، لارښونه اویا هغه سره مرسته ونکړی طالبانو به پوره زیانمن ونشی داهغه مطلب دی چی دقندهار د شورا یوه غړی حاجی لالی څرګند کړ اوپه عین وخت کی داسی وویل که چیری دغه پاڅون سره مرسته وشی یعنی له هر پلوه که سمبال شی نو دلته به هرومرو انقلاب به ترسره شی اودطالبانو زړی به له منطقی څخه وویستل شی .

دطالبانورهبرانو له دی نه چی پنجوایی یی دلاسه ورکړی دی ډیر په غوسه دی اوددی دپاره چی بیرته منطقی ته راستون شی په دغه اونی کی هغوی دپاکستان د کویټی په ښار کی پراخه غونډه وکړل کوم چی دغه مطلب یو د خبر رسولو مسول مفام څرګند کړ، اووویل چی په غونډه کی یو طالب قوماندان د تیلیفون په کرښه کی د پنجوایی سقوط څخه په نه انکار وویل چی مونږ باید په نوموړی منطقه کی خپل جګړه ماران په ډیر قوت اوهوښیا ری سره باید له سره دآپین دفصل په را رسیدلو سره انفلتریت (داخل) وکړو.

د رارسیدلی خبر په حواله تیر اونی په پنجوای کی دوه ساختمانی کارګران د طالبانو پواسطه سره اختطاب (تښتول) اوبیا ووژل شو اوپه هغه منطقه کی چي هغوی اوسیږی یا هغه کلی چی دهغو په ولکه کی دی ددغه دوو تښتول شوی کارګرانو مړی و ځوړول شول دغه مطلب یو دپولیسو آمر بیان کړ .

دطالبانو له طرفه عبدالودود اودهغه سره دنورو همکارانوته دوژنو اخطارونه را رسیدلی دی . ودود وویل دایواځی ماته په زنګ آباد او سپروان کی ګواښ نه دی بلکه ددی کلوډیرو نوروته هم ورته یو ګواښ دی ، نو په دی بنیاد طالبان نشی کولی چی مونږ ټول دمینځه ویسی

خکه چی مونږ ددی منطقی اصلی وارثان یا ستو اوهغه خلک چی پرمونږ یرغل کوی هغوی دباندی ځخه راځی اوددی منطقی خلک نه دی ،نومونږ باید چی سره خواره واره نشو اومونږ باید له خپل منطقی او ځمکی ځخه ساتنه وکړو .

دغه راپورله کابل «روح الله خپلواک » اوله قندهارځخه « تیمورشاه» چمتو کړی .

----------------------------------- به درناوی